انجنیر سید عبدالقادر


۲۹ می ۲۰۱۱

محترم روستار تره کي او دده دملي ګټو سرهتړلي دریځ !

واقعیت دادي چی دري ورځې تر مخه دپخواه په شان مي د ځینو افغاني ویب پاڼو د کتلو تر څنګ افغان جرمن انلائین ویب پاڼه هم خلاصه کړه ، چی سم دلاسه مي دمحترم عباسي صاحب ( افغان پیام دتلویزیوني شبکي همکار) دیوي تلیفوني سیاسي مصاحبي سره چی ددرو افغاني شخصیتونو سره یي تر سره کړیوه مخامخ سولم ، او په دوه ځله می په دقت سره دا مصاحبي واوریدلي ، چی ددې درو شخصیتونو دجملي څخه یو هم محترم روستار تره کي وو ۰ چی په افغانستان کي یي دامریکا یی پو ځي دایمي اډو په اړوند یی دنړیوالو حقوقو پر بنسټ او دافغان ملي ګټو په نظر کي نیولوسره په هر اړخیز ډول داسي څرګندوني کړي وي ، چی زه نه سم کولاي دده دپخوسیاسي ادبي جملو څخه لږ څه په خپل قلمولوستونکو ته بیان کړم ۰ ځکه نو زما له نظره ښه به دا وي چی دده دا پر واقعیتونو او ملیګټوباندي ولاړو څرګند ونو څخه افغان روشنفکران دافغانستان دلانجي دسیاسي چټک حل له پاره په خپلو لیکونو کي دمأخذ په توګه استفاده وکړي ۰ او هیله کوم دټولومحترمو افغا ن روشنفکرانو څخه چی دمحترم روستار تره کي دا مصاحبه حتمأ واوري ، چی داوریدلو څخه به یي ډیر داسي څه واخلي ، چی هغه به ستاسو دملي دریځ په تحکیم او پوخ والي کي ډیر ستر کومک وکړي ۰

باید دا واقعیت بیان کړو، کوم وختچی یو دولت دپردو د پوځي یرغل په پایله کي واک تر لاسه کړیوي اود یوه سهامي شرکت بڼه خپله کړي وي ، او یر غلګرو دخپل پوځي اواقتصادي زور په اندازه ددولت دلوړ پوړو چارواکو تقرر او تبدل خپل تر منځ په ډیرسخاوتمندانه ډول ویشلي او دهر بهرني دولت سهمیه پکښي معلومه وي ، نو ښکاره خبره ده چی دا چارواکي به دخپلي وظیفي په درشل کی هر وخت دولس او ملي ګټو په وړاندي دپردو لاس نیوي کوي ۰ چی په نتیجه کي نو ددولت دري ګوني قواوي هم د لوي اختلاس تر څنګ دپردو دګټو او ستراتیژیوپولي کونکي وي ۰ چی په دې نیژدي لسو کلونو کي دا هر څه زموږ یرغمل ولس په خپلو سترګو لیدلي دي ۰ نوپه داسي یوه حالت کي څنګه کیدلایسي چی داسییو دولت ته مشروع دولت وویل سی ۰ او بیا دې یرغلګر ځواک تر لسو کلونو وروسته دیویخواه دخپلو سختو اقتصادي ، سیاسي او دجنګ په ډګر کي دنه کامیابي او دپوځي نورو ستونځو او دبله طرفه په منطقه کښی د نه لاس ته راوړني له کبله ، بیا دپوځي دایمي اډو یاددوي په نوي اصطلاح ستراتیژیکي تړون لاس لیک د هم دې دولت سره و کړي ، چی دولس په وړاندي هیڅ نوع

مشروعيت نه لري ٠ ځکه نو دداسي يونامشروع دولت تر سيوري لاندي هر پارلمان او لويه جرګه هم غير مشروع او لاسليکونه به يي هم دولس په وړاندي هيڅ نوع مشروعيت ونه لري ٠ ځکه نو دافغان داوسني کشالي بنه او مشروع لاره دملګرو ملتونو تر مشري لاندي ديو نړيوال کنفرانس را بلل دی ، چی دا کنفرانس بايد دهيڅ يوه بهرني هيواد دنظامي او اقتصادي اغيزي لاندي نه وي ٠ او په دې کنفرانس کي به ډيره پر ځاي وي چی دنړيوالو تر څنګ دافغان جنګ دواړو خواوو ( امريکا ، افغان دولت ) او مقاومت سر بيره يو شمير په داخل او بهر کي افغان ملي ګټو ته وفاداره مستقل سياسي کارپوهان او ملي ډموکراتيو ګوندونو استازي هم ګډون ولري ٠

تمت باالخير